د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Deputy PM for Economic Affairs Office
د مطبـوعاتـو رياست



- د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه الله په مــشرۍ په ۱۴۴٦ هـــ ق کال کې د اقتصادي کمېسيون دوهمه ځانګړې غونډه
- د مـــلي پراختيا ستـــــراتيژۍ مســــوده تاييد شــوه
- کندهـــار، زابـــل او هلمند ولايتونـــو کې د برېښـــنا درېيو لويو پراختيايي پروژو پاتې چارې پيل شوې
- ECONOMIC COMMISSION APPROVES DRAFT OF NATIONAL DEVELOPMENT STRATEGY

# ابادي
مياشتنی

۲ ګـــــڼه
ثـــور - ۱۴۰۴ هـ.ش
پرلپسې ۱۷ مه ګڼه

د افغانستان اســـلامي امارت د عصر اړتياوو او امکاناتـــو تـــه پـــه کتـــو نـــه يـــوازې د ترانسپورتي زېربناوو د رغولو او پراخولو په برخه کـــې کلک هوډ لـــري، بلکـــې د نورو بنسټيزو ستراتيژيکو موخو د ترلاسه کولو په برخه کې هم خپلو هڅو ته دوام ورکوي.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

# ABAADI

@FDPM_AFG
dpmea.gov.af
@FDPM_AFG

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Deputy PM for Economic Affairs Office
د مطبوعاتو رياست

بسم الله الرحمن الرحیم

# ابادي

میاشتنۍ

ګڼه ۲

ثور - ۱۴۰۴ هـ.ش
پرلپسې ۱۷ مه ګڼه

**د امتیاز خاوند:** د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

**کتنپلاوی:** مولوي عبدالله عزام، مولوي ذبیح الله ناصر، امان الله حنیفي
فضل ولي شیراني او نجیب الله مایار

**مسئول مدیر:** مولوي خالق‌داد تقي

**ډیزاینر:** عطاءالرحمن سعید

**فوټوژورنالیست** حجت الله قاضي زاده



مرمرینه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل

0202107500

media@dpmea.gov.af

dpmea.gov.af



- د مجلې له مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.
- استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مآخذ مجاز است.

# لړلیک


| | |
| --- | --- |
| سـرلـيــکـنـــه | ۱ |
| غـــونـــډې | ۲ - ۱۳ |
| دمهمو اقتصادي پروژو پرانیسته او انفوګرافیک | ۱۴ - ۲۲ |
| د اقتصادي موضوعاتو اړوند مقالې | ۲۴ - ۳۳ |
| English Section | 1 - 9 |



# سرلیکنه

د عالیقـدر امیرالمؤمنین شـیخ صاحـب حفظه‌الله په مشرۍ د ۱۴۴۶ هـ ق کال د شوال المکرم میاشتې په ۲۸ مـه، ۲۹مه او ۳۰مه نېټه د اقتصادي کمېسـیون دوهمه ځانګړې غونډه ترسره شوه. په غونډه کې د نورو موضوعاتو ترڅنـګ د امـارتي ځمکو د نمـرو د پلـور او وېش او د سـاختمان د اجارې د ورکړې اسانتیاوو په اړه طرزالعمل، پـه ټولو ولایتونو کې د صنعتي پارکونو د جوړېدو په موخه د صنعت او سـوداګرۍ وزارت ته د ځمکې انتقالولو او په امارتي ادارو کې د پانګوالو او سوداګرو د کارونو د ژر طي مراحل کېدو او د شـته سـتونزو د حل په موخه د جامع طرزالعمل جوړولو په اړه بحث وشو.

اسـلامي امارت د نومرو د پلور، وېش او د سـاختمان د اجارې د ورکـړې په اړه په جوړ شـوي طرزالعمل کې د هېوادوالو له پاره اسانتیاوې په نظر کې نیولې دي. د دې طرزالعمل له مخې به د خپلې ابادۍ له پاره شـپږ یا اووه میاشتنۍ پروسه په ۱۵ ورځو کې بشپړه او د ابادۍ چارې به پیل کړي. په دې سره به لـه یوه لوري خلکو ته د کار زمینـه برابـره شي او لـه بل لـوري به د اسـتوګنې او سـوداګریزو ودانیو پـه جوړېدو سره د خلکـو د سرپناه ستونزه حل او کاروبارونه به ورسره وغوړېږي.

دویمـه موضوع د صنعتي پارکونو له پاره د هېواد په کچه د ځمکو ځانګړي کـول دي. تر دې مهاله د هېواد په کچه د صنعتي پارکونو له پـاره ۸۰ زره جریبه ځمکه د صنعت او سوداګرۍ وزارت ته انتقال شوې او پاتې هغه د انتقالېدو په حال کې ده. هر څومره چې د صنعتي پارکونو ساحه پراخېږي په هماغه کچه به د هېواد صنعت وده کوي. په دې برخه کې به د صنعت کارانو ستونزې حل او د هېواد په کچه به صنعت پرمختګ وکړي. د صنعت په پراختیا سره به بیا د هېـواد اقتصادي وده ګړنـدۍ او په هېواد کـې به د بې روزګارۍ ستونزه هواره شي. دغه راز به د صنعت په پرمختګ او د خپلـو تولیداتو په زیاتیدو سره په هېواد کې د پانګونې کچه لوړه او له بل لوري به صادرات زیات شي.

درېیمه موضوع د اقتصادي کمېسیون په ځانګړي غونډه کې په امارتي ادارو کې د پانګوالو او سوداګرو د کارونو د ژر طي مراحل له پاره د جامع طرزالعمل جوړول و. د دې طرزالعمـل پـه جوړېـدو سره بـه د پانګونـې او هم د سـوداګریزو چارو پروسـې رالنډې او په هېواد کې به د پانګونـې بهیر چټک شي. د پانګونې پـه زیاتېدو سره به وکولای شوو، خپلې زیربناوې ورغوو. د سوداګریزو چارو په ښـه پرمختګ سره خو بیا جوته خبره ده چې سوداګري به پراخه او چټکه شي.

په لنډ ډول ویلای شـو چې اسـلامي امارت په ټول توان هڅه کوي چې د حکومتولۍ په برخه کې ټولې پیچلې او اوږدې پروسـې لنډ او چارو ته سرعت ورکړي. هر څومره چې چـارې په لږ وخت کې ترسره شي، په هماغه کچه به له اقتصادي پلـوه د هېواد پرمختګ رامنځته او اقتصادي وده به زیاته شي. د اقتصادي کمېسیون په ځانګړې غونډه کې پر یو لړ نورو موضوعاتو هم بحث وشو. دا هم ټول هغه موضوعات وو چې په عملي کېـدو سره به یې د هېواد په اقتصادي وده کې مؤثر بدلون رامنځته شي.



د ملي تدارکاتو او اقتصادي کمېسیونونو، تخنیکي او پانګونې بین الوزارتي کمېټو او د یو شمېر نورو اقتصادي موضوعاتو اړوند

# غونډې

# ۱۴۰۴ کال کې به

## په یوشمېر ولایتونو کې د اوبو بندونو د امکان سنجي مطالعاتو پروژې پیل شي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د وړاندې شوو موضوعاتو په اړه بحث وشو.

دې غونډې ته د اوبو او انرژۍ وزارت له لوري د میدان وردګ د ګرومبي بند، د بلخ د قره تېږي بند، د کندهار د شنه نري بند او د پکتیا د وچ نري بند د سروې او امکان سنجۍ مطالعاتو پروژې د بحث لپاره وړاندې شوې، چې له هراړخیزې ارزونې وروسته یې د روان ۱۴۰۴ مالي کال په بودیجه کې د نیولو پرېکړه وشوه.

په دغه غونډه کې د کندهار د بای پاس لویې لارې، ارغستان بند جوړولو، له کابل ولایت تر جلال اباد پورې د ۹۰ کیلومتره برېښنا لېږد مزي او په جلال اباد ښار کې د شیخ مصري سبستېشن د چارو بشپړولو په موضوعاتو هم بحث وشو. له تفصیلي بحث وروسته پرېکړه وشوه چې د بامیان ولایت د یکاولنګ ولسوالۍ ګنده کوتل د سرپ او جستو کان څخه لاسته راغلي عواید دې د مالیې وزارت له لوري د ځانګړي کوډ په ایجادولو سره یادو عام‌المنفعه پروژو ته ځانګړي شي.

همداراز په دغه غونډه کې د کابل په سروبي ولسوالۍ کې د ۱۰ میګاواټه لمریزې برېښنا د تولید، د دشت الوان ۵۰۰ کیلو ولټه انتقالي مزي د پاتې چارو، د بت خاک نوي سبستېشن جوړولو، د چمتلي سبستېشن ۲۲۰ کیلو ولټه انتقالي مزي غځولو او همداراز د ارغندۍ سبستېشن ۲۲۰ کیلو ولټه انتقالي مزي غځولو پروژو له پاره د ځمکو د استملاک، لېږد او تصفیې پروسې د چټکولو په اړه هم بحث وشو. له بحث وروسته کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت ته دنده وسپارل شوه، څو د یادو پروژو له پاره د ځمکې د تصفیې او استملاک پاتې ۲۰ سلنه چارې بشپړې او مالیې وزارت دې په ۱۴۰۴ مالي کال کې د یادو پروژو له پاره د ځمکې استملاک ته بودیجه ځانګړې کړي.

د غونډې په پای کې له خصوصي سکټور سره د ننګرهار په حصار شاهي صنعتي پارک کې د ۴۰ میګاواټه لمریزې برېښنا د پانګونې طرحه تایید شوه. خصوصي سکټور به د دغه طرحې له مخې ۵۰،۶۹ میلیون ډالره پانګونه کوي. پورته ذکر شوي تصامیم د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه‌الله تعالی له لوري تایید شوي دي.











# د ملي پراختیا ستراتیژۍ مسوده تایید شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه ترسره شوه. دغه غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د وري میاشتې په ۲۶مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه.

د اقتصادي کمېسیون یادې غونډې ته د ملي پراختیا ستراتیژۍ مسوده د بحث لپاره وړاندې شوه، چې له هراړخیزې ارزونې وروسته او د اقتصادي کمېسیون له لوري د راغلو تعدیلاتو په پام کې نیولو سره تایید شوه.

د ملي پراختیا ستراتیژۍ مسوده هغه جامع، واحد او اوږدمهاله سند دی چې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د هېواد د بنسټیزو ملي موخو د تعیین او ترلاسه کولو په پار د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت په مشرۍ، د اقتصاد وزارت په سکرتریت او د اړوندو سکتوري وزارتونو په ګډه همکارۍ چمتو شوی دی. دغه ستراتیژي د یو باثباته، هوسا او له سیمې او نړۍ سره په ښو اړیکو سمبال افغانستان لیدلوری لري چې موخې یې (د اسلامي شریعي قانون ټینګښت، د مؤثریت، روڼتیا او حساب ورکونې اصل تأمینول، د سیمې او نړۍ سره د اغېزناکو او نېکو اړیکو پراختیا، د پایښت لرونکې سولې او عمومي امنیت ټینګښت، کارموندنه او اقتصادي وده، د دیني او ملي ارزښتونو، ارضي تمامیت او اسلامي حاکمیت ساتنه، د ملي او طبیعي سرچینو د مدیریت مؤثریت لوړول، د بنسټیزو خدمتونو د عرضې ښه‌والی، د صنعت، سوداګرۍ او خصوصي سکټور وده، د زېربنا پراختیا او سیمه‌ییز اتصال، د ټولنیز خوندیتوب او د ژوند چاپېریال ښه والی) ښودلې شوې دي.

همدارنګه د اقتصادي کمېسیون په دې غونډه کې مالیې وزارت ته دنده وسپارل شوه څو د نورستان ولایت په منډول ولسوالۍ کې پر طبیعي حوض او د دغه ولایت د نورګرام ولسوالۍ په کله‌ګوش سیمه کې د برېښنا بندونو د امکان سنجۍ مطالعاتو ترسره کولو پروژې د ۱۴۰۴ مالي کال په بودیجه کې ونیسي.

د غونډې په پای کې د خصوصي سکټور له لوري د بغلان ولایت په خنجان ولسوالۍ کې د تیر پارک جوړولو او د غزني ولایت په مرکز کې تر ځمکې لاندې د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحې هم تایید شوې. د یادو طرحو له مخې به خصوصي سکټور په خنجان ولسوالۍ کې د تیر پارک جوړولو په موخه ۲۰۹ میلیونه افغانۍ او په غزني کې تر ځمکې لاندې سوداګریز مارکېټ جوړولو په موخه چې ۵۱۱ دوکانونه به ولري، ۳۰۹ میلیونه افغانۍ پانګونه کوي. یاد موضوعات د منظورۍ په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی دفتر ته واستول شول.

### د اقتصادي کمېسیون له لوري په هرات ولایت کې

## د «بام هرات» تفریحي کمپلکس جوړولو طرحه تایید شوه

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته له اجنډا سره سم په هرات ولایت کې د خصوصي سکټور له لوري د «بام هرات» تفریحي کمپلکس جوړولو طرحه، پر اوسپنې ویلې کوونکو فابریکو باندې د دولتي داغمه‌جاتو د وېش او پلور، د بدخشان ولایت د وېکادور سرو زرو کان د قرارداد او همدا راز یوشمېر نور تعقیبي موضوعات د بحث لپاره وړاندې شول.

په غونډه کې له مفصل بحث وروسته په هرات ولایت کې د خصوصي سکټور له لوري د «بام هرات» تفریحي کمپلکس جوړولو طرحه تایید شوه. د دغه طرحې له مخې به خصوصي سکټور د یاد کمپلکس د جوړولو په موخه څه باندې یو میلیارد افغانۍ پانګونه کوي، چې شاوخوا څلورو زرو کسانو ته به د کار زمینه برابره کړي.

همدارنګه په یاده غونډه کې مالیې وزارت ته دنده وسپارل شوه، څو د اوسپنې ویلې کوونکو شرکتونو سره پخواني حسابونه تصفیه او له هغو شرکتونو چې د افغانستان اسلامي امارت پوروړي دي، پورونه ترلاسه او هغو شرکتونو ته چې د افغانستان اسلامي امارت یې پوروړی دی، پورونه تادیه کړي او د داغمه‌جاتو د وېش او پلور په تړاو دې د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه‌الله تعالی حکم تطبیق کړي.

د کانونو او پټرولیم وزارت ته هم هدایت وشو، څو د بدخشان ولایت د ویکادور سرو زرو کان د استخراج او پروسس په اړه ترسره شوې داوطلبۍ بې پایلې اعلان کړي او د دغه کان لپاره نوې داوطلبي ترسره شي. د نوې داوطلبۍ پر مهال دې وړ شرکت انتخاب شي.

د غونډې په پای کې د یوشمېر تعقیبي موضوعاتو راپورونه هم وړاندې شول چې د اقتصادي کمېسیون له لوري تایید او اړوندو وزارتونو او ادارو ته یې د تطبیق په اړه لازمې سپارښتنې وشوې.

پورته ذکر شوي تصمیمونه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه‌الله تعالی له لوري منظور شوي دي.



## د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه‌الله تعالی په مشرۍ په ۱۴۴۶ هـ ق کال کې د اقتصادي کمېسیون دوهمه ځانګړې غونډه ترسره شـوه

د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه‌الله په مشرۍ د ۱۴۴۶ هـ ق کال د شوال المکرم میاشتې په ۲۸مه، ۲۹ مه او ۳۰مه نېټه د اقتصادي کمېسـیون دوهمه ځانګړې غونډه ترسره شوه. غونډې ته د ۱۴۴۶ هـ ق کال د جمادی الاولی میاشــتې په درېیمه نېټه د عالیقدر امیرالمؤمنین شــیخ صاحب په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون په لومړۍ ترسره شــوې غونډه کې د شــوو پرېکړو تعقیبي راپورونه وړاندې شــول. په لومړۍ غونډه کې د چــارو اداري لوی ریاست په مشرۍ ټاکل شوې کمېټې ته دنده سپارل شوې وه، څو د ښاري پلانونو مطابق د امارتي ځمکو د نمرو د پلور او وېش او د ســاختمان د اجارې د ورکړې اسانتیاوو په اړه طرزالعمل جوړ کــړي. یادې کمېټې په همدې موخه جوړ شوی طرزالعمل په دوهمه غونډه کې د ارزونې لپاره وړاندې کړ، چې د یو لړ راغلو تعدیلاتو له ځای پرځای کولو وروسته بــه د منظورۍ په موخــه د عالیقدر امیرالمؤمنین شــیخ صاحب دفتر ته واســتول شي. د دغه طرزالعمل له مخې هېوادوال کولی شي په شــخصي ځمکو کې د ځمکې د تثبیت پروسه په ۱۵ ورځو کې ترسره او په یوه میاشت کې یې نقشه ویزه او چارې یې پیل کړي. همدارنګه په لومړۍ غونــډه کې د کرنې، اوبولګولو او مالــدارۍ وزارت ته دنده سپارل شوې وه، څو په ټولو ولایتونو کې د صنعتي پارکونو د جوړېدو په موخه د صنعت او ســوداګرۍ وزارت ته ځمکه انتقال کړي. د دغه پرېکــړې د تطبیق په اړه یادو وزارتونو خپل راپور په دوهمه غونډه کې وړاندې کړ چې په دېرش ولایتونو کې د ۸۰ زره جریبه ځمکې انتقال ترسره شوی او په یو شــمېر ولایتونو کې دا پروســه په نږدې وخت کې د بشپړېدو په حال کې ده. په دې سره به په ټولو ولایتونو کې د صنعت‌کارانــو د ځمکې د نشــتون ســتونزه حل شي. همداراز په لومــړۍ غونډه کې د عامــې روغتیا وزارت په مشرۍ ټاکل شوې کمېټې ته هم دنده سپارل شوې وه، څو د انساني، حیواني او کرنیزو درملو، روغتیايي محصولاتو او خوراکي توکو د قاچــاق د مخنیوي په موخه کړنلاره جوړه کړي. یادې کمېټې دغه کړنلاره جوړه او د ارزونې په موخه یې شریکه کړه، چې د یو لړ راغلو تعدیلاتو له ځای پرځای کولو وروسته به د منظورۍ په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب دفتر ته واستول شي. د عالیقدر امیرالمؤمنین شــیخ صاحب په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون په دوهمه ځانګړې غونډه کې د یو منظم میکانیزم له مخې په کال کې د شــپږو میاشــتو لپاره بهرنیو هېوادونو ته د افغانستان د څارویو د صادراتو اجازه ورکړل شــوه. له شــپږو میاشـــتو وروسته به د پخوا په څېر اجراات ترسره کېږي. همدارنګه د چارو اداري لوی ریاست ته دنده وسپارل شوه، څو له اړوندو وزارتونو سره په همغږۍ په امــارتي ادارو کې د پانګوالو او ســوداګرو د کارونو د ژر طی‌مراحل او په ټولو برخو کې د شته ســتونزو د حل په موخه جامع طرزالعمل جوړ کړي. دغه طرزالعمل دې د تاییدۍ په موخه اقتصادي کمېسیون ته واســتوي او له هغه وروســته دې د منظورۍ له پاره د عالیقدر امیرالمؤمنین شــیخ صاحــب حفظه‌الله دفتر ته واستوي. د یادونې وړ ده چې د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحــب حفظه الله په مشرۍ د اقتصادي کمېســیون په لومړۍ غونډه کې د شویو پرېکړو د تطبیق په موخه یو شمېر نــورو وزارتونــو او ادارو هم خپــل راپورونــه د اقتصادي کمېسیون په دوهمه ځانګړې غونډه کې وړاندې کړل.

# کمیسیون اقتصادی، مسوده پالیسی عواید سکتور معادن را تایید نمود

نشست نوبتی کمیسیون اقتصادی به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، برگزار شد. در این نشست که، ۳۱ حمل ۱۴۰۴ خورشیدی، در قصر مرمرین برگزار شده بود، مسوده پالیسی عواید سکتور معادن برای بحث ارائه شد که پس از تحلیل همه‌جانبه، با درنظر داشت تعدیلات از سوی کمیسیون اقتصادی مورد تایید قرار گرفت.

در این نشست کمیسیون اقتصادی، طرح اعمار مارکیت تجارتی در شهر مزارشریف مرکز ولایت بلخ با سرمایه گذاری ۸۰ میلیون افغانی نیز به بحث گرفته شد. این طرح پس از ارزیابی همه‌جانبه و با آوردن تعدیلات از سوی کمیسیون اقتصادی تایید شد. بر اساس طرح مذکور، این مارکیت تجارتی در شش طبقه با داشتن ۵۶ دکان، پارکینگ بزرگ و سایر سهولت‌های لازم اعمار خواهد شد.

همچنان در این نشست، طرزالعمل ایجاد تاسیسات گاز مایع و موضوع یافتن راه‌حل‌های مناسب برای جلوگیری از تخلفات شرکت‌های کارگو و پُستی نیز مطرح شد. به منظور ارزیابی همه‌جانبه این موضوعات، کمیته‌های جداگانه تعیین و موظف شد تا در تاریخ معین، گزارش های‌شان را به کمیسیون اقتصادی ارائه نمایند.

در پایان نشست، گزارش تعقیبی برخی موضوعات دیگر نیز ارائه شد که با درنظر داشت هدایات کمیسیون اقتصادی، تایید گردیده و به وزارت‌ها و ادارات مربوط برای تطبیق سپرده شد. این تصامیم غرض منظوری، به دفتر عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله تعالی فرستاده شد.



# طرح ساخت مارکیت تجارتی

## در ولایت سرپل مورد تأیید قرار گرفت

جلسهٔ نوبتی کمیتهٔ سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی به تاریخ پنجم حمل ۱۴۰۴ خورشـیدی در قصر مرمرین برگزار شد. در این جلسه طرح ساخت مارکیت تجارتی از سوی سـکتور خصوصی در زمین شـاروالی ولایت سرپل و همچنان شـماری دیگر از طرح‌های سرمایه‌گذاری در بخش‌های مختلف ارائه شد.

پس از بحـث همه‌جانبه، کمیتـهٔ سرمایه‌گذاری بین الوزارتی با در نظر داشـت تعدیلات پیشنهادی از سوی این کمیته، طرح سـاخت مارکیت تجارتـی در زمین شـاروالی ولایت سرپـل را تأیید و بـرای منظوری به کمیسـیون اقتصادی راجع کرد. بر اسـاس این طرح، سکتور خصوصی با سرمایه‌گذاری حدود ۹۶ میلیون افغانـی مارکیت تجارتی پنج‌طبقه اعـمار می کند که دارای ۳۴۱ دکان بوده و در زیرزمین آن پارکینگ نیز در نظر گرفته شده است.

همچنان در این جلسه طرح‌های دیگری از جمله تولید موتـر در پـارک صنعتـی کابـل، تدویـن چارچوب اسـتراتیژیک برای رشـد اقتصادی کشـور و ساخت مارکیت تجارتی در بندر اسـلام‌قلعه از سـوی سکتور خصوصی نیز ارائه شـد. جهت بررسی همه‌جانبهٔ این طرح‌ها به کمیته‌های مؤظف وظیفه سـپرده شـد تا با شرکت‌هـای ارائه‌دهندهٔ طرح هـا بحث‌های تخنیکی انجام داده و گزارش خود را در زمان تعیین‌شده به کمیتهٔ سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی ارائه نماید.



# تأکید بر تطبیق کامل
# توافق‌نامه اقتصادی
# میان کابل و تهران

جهت تطبیق کامل توافق‌نامه اقتصادی میان کابل و تهران، نشست تعقیبی نوبتی کمیته تخنیکی مشترک میان دو کشور، به تاریخ ۲۰ حمل ۱۴۰۴ خورشیدی در قصر مرمرین برگزار شد.

طبق آجندا، در این نشست روی افزایش تجارت دوجانبه، حل مشکلات موجود در بخش ترانزیت و فراهم سازی تسهیلات لازم، ایجاد همکاری‌های مشترک در زمینهٔ میکانیزه‌سازی سکتور زراعت افغانستان، تطبیق تصامیم اتخاذ شده در بخش ترانسپورت، سرمایه‌گذاری در معادن افغانستان و فراهم‌سازی سهولت‌های بیشتر در بخش گمرکات بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

در این نشست بر تطبیق کامل توافق‌نامه اقتصادی میان کابل و تهران تأکید شد و تصمیم اتخاذ گردید که نشست‌های تعقیبی این کمیته در آینده نیز ادامه یابد.

قابل یاد آوریست که توافق‌نامه اقتصادی میان کابل و تهران در بخش‌های تجارت، ترانزیت، ترانسپورت، زراعت، معادن و شماری دیگر از بخش‌ها دارای ۹۲ ماده می‌باشد که با تطبیق عملی بیشتر مواد توافقنامه یاد شده، سطح تجارت میان دو کشور به شکل چشم گیری افزایش یافته است.



د ستـــنــډرډ عـــالي شـــورا لـــه لـــوري

# په بېلابېلو برخو کې ۳۰ ستېنډرډونه تصويب شول

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ستېنډرډ عالي شورا درېيمه نوبتي غونډه ترسره شوه. دغه غونډه  د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د وري مياشـــتې په ۲۴مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، چې د ستېنډرډ ملي ادارې لوی رئيس ملا فيض الله تميم او د دې شورا دايمي غړو په‌کې حضور درلود.

د رياســـت‌الوزراء اقتصادي مرستيال وويل، د دې شورا په غونډو کې د افغانستان د توليداتو پر کيفيت بحث کېږي او د ښـــه کېدو او تضمين په موخه يې معياري ســـتېنډرډونه تصويبېږي. دا ستېنډرډونه توليداتو ته نړيوال اعتبار ورکوي او په ورته وخت کې د صادراتو په زياتوالي کې هم مهم رول لري. ورپســـې د ســـتېنډرډ ملي ادارې لوی رئيس مولوي فيض‌الله تميم د ستېنډرډونو د ارزښت په اړه خبرې وکړې. هغه وويل، د معياري ستېنډرډونو د تطبيق په صورت کې د انســـانانو او حيواناتو روغتيا خوندي کېږي او په ورته وخت کې د خوندي چاپېريال په رامنځته کولو کې هم مؤثر رول لـــري. مولوي فيض‌الله تميم زياته کړه، په همدې موخه د ســـتېنډرډ ملي اداره په بېلابېلو برخو کې توليدي فابريکو، شرکتونو او اړوندو ادارو ته معياري ســـتېنډرډونه ور معرفي کوي. په دغه غونډه کې د ستېنډرډ ملي ادارې مسوولينو د خپل کلنـــي راپور شريکولـــو پر مهال وويـــل، د معياري توليداتـــو په موخـــه يې پـــه بېلابېلو برخو کې ســـلګونه ستېنډرډونه اړوندو توليدي فابريکو، شرکتونو او ادارو ته ور معرفي کړي او همـــدا راز يې له ٦١ توليـــدي فابريکو او شرکتونو څخه نظارت هم ترسره کړی دی. د يادو فابريکو او شرکتونو له جملې د ځينو توليدات د قناعت وړ او ډېری يې بيا پر معيـــار برابر نه وو، چې د دغـــه ادارې له لوري ورته لازمې سپارښتنې شوې دي. د ستېنډرډ عالي شورا د درملو، خوراکي او ساختماني توکو او نورو برخو کې د تصويب شوو ستېنډرډونو پر بشپړ تطبيق جدي ټينګار وکړ او پرېکړه يې وکړه، چـــې د نه تطبيق او سرغړونې پـــه صورت کې به د ستېنډرډ ملي اداره د اړوندې توليدي فابريکې او شرکت د فعاليـــت په اړه د تصميم نيولو په موخه د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت ته وړانديز کوي. همدا راز پرېکړه وشوه چې د توليـــدي فابريکو او شرکتونو لـــه توليداتو څخه د دوامداره نظارت او د تصويب شـــوو ســـتېنډرډونو د بشـــپړ تطبيق په موخه دې د ســـتېنډرډ ملي ادارې په مشرۍ له اړوندو وزارتونو او ادارو سره په همغږۍ تطبيقي پلان جوړ او عملي شي. د ستېنډرډ عالي شورا درېيمې نوبتي غونډې ته د خوراکي توکـــو او کرنيزو محصولاتـــو، درملو او ارايشي لوازمو، ساختماني توکو، اليکترونيک او مخابراتو، نساجي او چرم، چاپېريال ساتنې، پلاستيک، طبي وسايلو، کانونو او د څارويو د حلالې برخو کې ۳۰ ســـتېنډرډونه د تصويب لپاره وړاندې شـــول. له هراړخيز بحث وروســـته د رياست الوزراء اقتصادي مرســـتيال له لوري تصويب او د ستېنډرډ ملي ادارې ته يې په جدي توګه د بشپړ تطبيق سپارښتنه وشوه او دغه اداره مکلفه وبلل شوه چې د يادو ستېنډرډونو د تطبيق راپور وخت په وخـــت له اقتصادي معاونيت سره شريک کړي. محترم ملا صاحب وويل، په دې سره به هېواد ته د بې کيفيته توکو د راتګ او توليد مخنيوی ترسره او په ورتـــه وخت کې به د هېوادوالو د روغتيا او همدا راز توکو او خدماتو د کيفيت تضمين هم وشي.

# طرزالعمل ایجاد شرکت‌های سهامی تدوین می‌گردد

به ریاست معاون ریاست عمومی دفتر مقام معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء اولین جلسهٔ کمیتهٔ تدوین طرزالعمل ایجاد شرکت‌های سهامی، به تاریخ ۲۰ حمل ۱۴۰۴ خورشیدی در قصر مرمرین برگزار شد. در این نشست نمایندگان اداره امور، وزارت‌های مالیه، صنعت و تجارت، اقتصاد، معادن و پترولیم، عدلیه و ریاست های عمومی د افغانستان بانک و شرکت‌های امارتی حضور داشتند. در این جلسه در مورد نیاز و اهمیت ایجاد شرکت‌های سهامی بحث و گفتگو صورت گرفت. پس از بحث همه جانبه، با درنظر داشت علاقه‌مندی بازار و مردم، ایجاد شرکت‌های سهامی ضروری دانسته شد تا از طریق آن سرمایه‌های غیرمتحرک به حرکت درآیند. در پایان این نشست فیصله شد که به‌منظور ایجاد شرکت های سهامی و تنظیم فعالیت‌های آن، طرزالعمل منظم و همه‌جانبه تدوین گردد.



# د فراه د میل ۷۸ بندر د تاسیساتو جوړولو او پراختیا لپاره دې اضافي ځمکه ورکړل شي

د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د ثور میاشتې په نهمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. غونډې ته له اجنډا سره سم د فراه ولایت د میل ۷۸ بندر د تاسیساتو جوړولو او د بندر پراختیا موضوع د بحث لپاره وړاندې شوه. له هراړخیز بحث وروسته نظر دا و چې د یاد بندر د تاسیساتو جوړولو او پراختیا لپاره دې د اړوندو وزارتونو او ادارو د اړتیاوو په پام کې نیولو سره اضافي ځمکه ورکړل شي. په غونډه کې د صنایع سبز صنعتي پارک د ځمکې ارزښت معلومولو په اړه هم بحث وشو. د موضوع له هراړخیزې ارزونې وروسته نظر ورکړل شو، چې د یاد صنعتي پارک د ځمکې د قیمت په اړه دې د صنعتي ساحو د نوي قانون له مخې چې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی له لوري توشیح شوی او د ځمکې له پاره في متر ۱۵۰ افغانۍ قیمت ټاکل شوی، اجراات ترسره شي. د غونډې په پای کې په کابل ښار کې د یوځل کارېدونکي پلاستیک د کنټرول په موخه د چاپېریال ساتنې ملي ادارې له لوري پر جوړې شوې طرحې هم بحث وشو. له هراړخیز بحث وروسته د چاپېریال ساتنې ملي ادارې او کابل ښاروالۍ ته دنده وسپارل شوه، څو د عامه او خصوصي مشارکت له لارې د کثافاتو د پروسس لپاره وړ شرکتونه انتخاب او د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت ته یې پیشنهاد کړي. یاد موضوعات د تاییدۍ په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شول.



# جلسهٔ کمیته تخنیکی کمیسیون اقتصادی

## برگذار گردید

جلسـهٔ نوبتی کمیتهٔ تخنیکی کمیســیون اقتصادی به تاریخ ۲۲ ثور ۱۴۰۴ خورشیدی در قصر مرمریــن برگزار شـد. طبق اجندا، موضوع تطبیق پلان‌های منظورشده شهری و توزیع نمره‌هــای موجود در آن، برای بحث به جلسه ارائه گردید. پس از بحث همه‌جانبه، به یک کمیته وظیفه سپرده شد تا این موضوع را بــه صورت کامــل ارزیابی نمــوده و گزارش خویش را با کمیتهٔ تخنیکی شریک سازد.

در این جلسه در مورد قرارداد استخراج معدن نفرایت ساحه سکندره ولسوالی سرکانو ولایت کنر نیز بحــث صورت گرفت. پس از بحث ها این موضوع غرض تصمیم نهایی به کمیسیون اقتصادی راجع گردید.

در این نشست همچنان در پروژهٔ‌های ساخت ۲۵٫۶ کیلومتر سرک از دو راهی بگرام تا جبل السراج و ۱۲٫۵۱ کیلومتر سرک قریه هجرت نیز مــورد بحث قرار گرفت. پس از بحث همه جانبه به وزارت فواید عامه وظیفه سپرده شد تا نظر خــود را در مورد این دو پــروژه با کمیتهٔ تخنیکی کمیسیون اقتصادی شریک سازد.





# د مهمو پروژو پرانیسته
## او انفوګرافیکونه

# د ۲۰,۷ میلیاردو افغانیو په پانګونې سره

## د برېښنا د تولید او انتقال یوشمېر پروژو قراردادونه لاسلیک شول

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند پــه حضور کې د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د وري میاشتې په اوومه نېټه د حکومــت د اطلاعاتو او رســنیو مرکز کې د افغانستان برېښنا شرکت او خصوصي سکټور ترمنځ د برېښنا تولید د اوو او د برېښنا انتقال د دربیو پروژو قراردادونه لاسلیک شول.

د برېښـــنا تولید په اوو پروژو کې په بلخ ولایت کې د ۴۰ میګاواټه لمریزې برېښـــنا، په هرات ولایت کې د پنځه میګاواټه لمریزې برېښنا، په لغمان ولایــت کې د لــس میګاواټه لمریزې برېښــنا، په هرات ولایت کې د ۲۰۰ میګاواټه بادي برېښـــنا د لومړي فــاز ۴۳,۲ میګاواټه برېښنا، په لوګر ولایت کې د ۴۰ میګاواټه لمریزې برېښــنا، پــه ننګرهــار ولایت کې د ۴۰,۲۵ میګاواټه لمریزې برېښنا او په جوزجان ولایت کې د ۵۰ میګاواټه ګازي برېښنا پروژې شاملې دي چې د برېښنا مجموعي ظرفیت یې ۲۲۸,۴۵ میګاواټو ته رســېږي. د برېښــنا د انتقال په پروژو کې بیا د کندهار ولایت ختیځ برېښـــنا کوټ او د زابل ولایت د قلات برېښنا کوټ جوړولــو او له کجکي تر کندهار پورې د ۱۱۰ کیلو ولټ برېښــنا مــزي غځولو پروژې شاملې دي.

د یادو پروژو د تطبیق لپــاره کورني او بهرني خصــوصي شرکتونه ۲۰,۷ میلیــارده افغانۍ پانګونه کوي چې چارې به یې په معیاري ډول پر ټاکلي وخت بشپړې شي.



# کندهار، زابل او هلمند ولایتونو کې
# د برېښنا درېیو لویو پراختیایي پروژو پاتې چارې پیل شوې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، د کابینې یوشمېر محترمو غړو او د کندهار، زابل او هلمند ځایي مسوولینو په حضور کې د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د ثور میاشتې په اتمه نېټه په کندهار، زابل او هلمند کې د برېښنا درېیو لویو پراختیایي پروژو پاتې چارې پیل شوې. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له همدې امله جوړو شویو مراسمو کې د خپلې وینا پرمهال وویل، دا پروژې د برېښنا په برخه کې ځان بسیاینې ته د رسېدو، د نویو کاري فرصتونو رامنځته کولو او زیربنا پیاوړتیا پر لور مهم گامونه دي، چې په مرسته به یې د کجکي بند برېښنا په بشپړ ډول کندهار ته ولېږدول شي. په دې برېښنا سره به کورونه روښانه او صنعت به وده وکړي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت په کور دننه له موجودو سرچینو د برېښنا د تولید په برخه کې جدي هڅې کوي، چې په همدې موخه یې څه موده وړاندې له خصوصي سکټور سره په بېلابېلو ولایتونو کې د ۲۵۰ میگاواټه په ظرفیت له لمر، باد او گازو څخه د برېښنا تولید تړونونه لاسلیک کړي دي. په یادو مراسمو کې ټولو مسوولینو د برېښنا کورني تولید پر پراختیا، د برېښنا نیمگړو پروژو پر بشپړولو، صنعتي، سوداگریزو او کرنیزو برخو ته د اړتیا وړ برېښنا پر رسولو ټینگار وکړ. په یادو پروژو کې د زابل مرکز قلات سب‌سټېشن او د کندهار ختیځ سب سټېشن د پاتې چارو بشپړول او همداراز له کجکي برېښنا تولیدي فابریکې څخه د کندهار ختیځ سب سټېشن پورې د ۱۱۰ کېلوولټ برېښنا لېږد مزي غځول شامل دي. په یادو پروژو باندې نږدې یو میلیارد افغانۍ لگښت راځي چې سلگونه زره نوي پېرودونکي به له برېښنا برخمن او ډېرو هېوادوالو ته به کاري فرصتونه رامنځته کړي. د یادو پروژو په بشپړېدو سره به د کجکي برېښنا تولیدي فابریکې ټوله برېښنا په اساسي ډول جذب او صنعتي، سوداگریزو او کرنیزو سکټورونو ته به د اړتیا وړ برېښنا برابره شي.



ارزګان کې د ۲۰۱ میلیون افغانیو په لګښت

# د برېښنا رسونې لویه پروژه پرانیستل شوه

د ریاســـتالوزراء اقتصـــادي مرســـتیال محـــترم ملا عبدالغنـــي برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د ثور میاشـــتې په نهمه نېټه له کجکي بنـــد څخه د ارزګان ولایت دهراوود ولسوالۍ ته د برېښنا رسونې لویه پروژه پرانیســـته. د ریاســـتالوزراء اقتصادي مرســـتیال په همدې مناسبت جوړو شـــوو مراسمو ته وویل، له پاکې انرژۍ څخه د ګټې اخیســـتنې دا ډول پروژې نه یوازې د اقلیمـــي بدلون پـــر وړاندې د افغانســـتان مقاومت زیاتـــوي، بلکې د نړیوال اقلیم په پاک ســـاتلو کې هم لازمه مرســـته کـــوي. د محترم ملا صاحـــب په خبره، افغانستان له پخوا راهیســـې په وارداتي برېښنا متکي دی او د عوایدو زیات رقم د وارداتي برېښـــنا په مقابل کې ورکول کېږي، په داسې حال کې چې واردېدونکې برېښـــنا له یوه لوري قیمته ده او له بل لوري پایداره او ډاډمنه سرچینه نه ګڼل کېږي. له همدې امله له کورنیو سرچینو په غوره ګټې اخیستنې سره د برېښنا تولید دا ډول پـــروژې کولی شي، چـــې په تدریجـــي توګه پر وارداتي برېښـــنا د افغانســـتان تکیه راکمـــه او ځان بسیاینې ته یې ورسوي.

د ریاســـتالوزراء اقتصادي مرســـتیال د پاکې انرژۍ ارزښت ته په اشارې سره وویل، د برېښنا تولید دا ډول پروژې ارزانه سرچینې دي، د مضرو ګازونو د تولید مخه نیسي، د اقلیمي بدلون پر وړاندې مبارزه کې مرســـته کوي، د برېښنا په برخه کې ثبات او پایداري رامنځته کوي، پـــه هېواد کې د پانګونې مقدار، تولیدي ظرفیت او د استخدام کچه لوړوي، د اسعارو د وتلو مخه نیسي او د هېواد له اقتصادي ودې سره د پام وړ مرسته کوي.

محترم مـــلا عبدالغني برادر اخونـــد د نړیوال اقلیمي بدلون له وجې افغانســـتان ته د ورپېښـــو زیانونو په اړه وویل، افغانســـتان د نړیوال اقلیم په تخریب کې هېڅ ډول ونډه نه ده اخیســـتې؛ خو لـــه بدهمرغه د نړۍ په ځانګـــړې توګه د لویو صنعتـــي او تولیدي هېوادونو له اقلیمي تاثیراتو څخه متضرر شوی. په داسې حال کې چې د اســـلامي امارت له حاکمیت وروســـته د پاکې انرژۍ د تولید ډېرې پروژې د نړیوالو سازمانونو له لوري بندې شـــوې دي؛ خو د اســـلامي امارت له لوري یې یوشمېر بیا پیل او پرانیستل شوې دي.

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال پر ملګرو ملتونو او د پاکې انرژۍ ملاتړ کوونکو نړیوالو سازمانونو باندې د یو ګډ مسوولیت له مخې غږ وکړ، چې له افغانستان سره د پاکې انرژۍ د تولید په برخه کې لازمه همکاري ترسره او د نړیوالو سازمانونو له لوري متوقفې شوې پروژې له سره پیل کړي.

د یادونې وړ ده چې له کجکي بند څخه د ارزګان ولایت دهراوود ولســـوالۍ ته د برېښنا رســـونې دغه پروژه د افغانستان برېښنا شرکت په مالي ملاتړ د ۲۰۱ میلیون افغانیو په لګښـــت پلې کېږي، چې په بشپړېدو سره به یې شاوخوا ۴۵۰۰ کورنیو ته برېښنا ورکړل شي.

# د ۱۴۰۲ او ۱۴۰۳ کلونو پر مهال د کليو بيارغوني او پراختيا وزارت له لوري د چک‌ډيمونو ٦٤ بديلې پروژې بشپړې شوې

## د چک‌ډيمونو د بديلو پروژو ډول:

کرنيز کانالونـــه، د اوبو ذخيرې، ســـربندونه، استنادي ديوالونه او ځينې نورې پروژې

## د چک‌ډيمونو د بديلو پروژو موخه:

خلکو ته د ښنـــاک پاکې اوبه برابرول، کرنيـــزو ځمکو تـــه د اوبو رســـول او له سيلابونو څخه د کورونو او کرنيزو ځمکو خوندي کول

## د چک‌ډيمونو د بديلو پروژو حالت:

تکميل شـــوې


## ټـــول لګـــښت:

شاوخوا ۹۷ ميليونه افغانۍ

## تمـــويلوونکـــی:

د افغانستان اسلامي امارت

## ولايتونه او د پروژو شمير:



بغـــلان (۱۳)
بلـــــخ (۱)
پـــروان (۱۳)
پکـــتيا (۱۱)
زابـــل (۳)
کاپيسا (۱۱)
کنـــدوز (۲)
نورســـتان (۱۰)

dpmea.gov.af

# کمیسیون تدارکات ملی در سال ۱۴۰۳ خورشیدی صـــدها پـــروژه را منظـــور نمـــوده است

**تعداد پروژه‌های منظورشده:**

۲۵۲

**هزینـــهٔ مجموعی:**

حــــدود ۷۴ میلیارد افغانی



**سکتـــورهـا:**

زیربنـــا، ترانسپورت، صحت، مخابرات، انرژی بـــرق، مدیریـــت آب، صنعت و معارف

**مکان‌هـای تطبیق:**

ولایت‌هـــای مختلف کشور

**تمویل‌کننده:**


امارت اسلامی افغانستان

**یادداشت:**

**در پروژه‌های منظورشده به هزاران هموطن به طور مستقیم و غیر مستقیم زمینهٔ کار مساعد گردیده است.**



اوبو او انرژۍ وزارت په ۱۴۰۳ لمریز کال کې د اوبو مدیریت او برېښنا تولید په برخو کې یو شمېر مهمې ملي پروژې بشپړې کړې او د ځینو نورو کارونه په چټکۍ سره روان دي.



## 01 ګټې اخیستنې ته سپارل شوي بندونه:

- شاه او عروس بند — کابل
- عمري بند — زابل
- د کمال خان بند دریم فاز — نیمروز
- سرخاب ذخیروي بند — لوګر

## 02 تر کار لاندې بندونه:

- پلتوني بند — پکتیکا
- بخش اباد بند — فراه
- پاشدان بند — هرات

## 03 هغه بندونه چې د امکان سنجۍ، جیوفزیک او جیوتخنیک مطالعات یې پیل شوي:

- اغا جان بند — ارزګان
- باغدري بند — کاپیسا

## 04 بشپړ شوي چک ډیمونه:

په بېلابېلو ولایتونو کې ۱۳۰ لوی او کوچني چک ډیمونه

## در جریان سال ۱۴۰۳ خورشیدی

# به ارزش ٦۴۳ میلیـــون دالـــر میــوه تازه و خشــک صــادر شده است





### انـــواع میـــوه‌ها:

- بـــادام
- انجیـــر
- انگور
- چهارمغز
- کشمش
- سیب
- جلغـوزه
- زردالو
- آلوبخارا
- انـــار

### مقدار مجموعی میوه‌های صادرشده:

- ۴۶۶ هزار تُن

### کشورهایی که میوه‌ها به آن صادر شده‌اند:

- پاکســـتان
- امارات متحده عربی
- هندوستان
- ترکیه
- ازبیکستان

## در مقایسه با سال ۱۴۰۲، در سال ۱۴۰۳ در محصولات میوه‌های تازه و خشک، حبوبات، غله‌جات و برخی نباتات افزایش قابل ملاحظه به‌وجود آمده است

### حبوبات و غله‌جات

| محصول | فیصدی افزایش | محصول | فیصدی افزایش |
|---|---|---|---|
| گندم | ۱۱ | باقلی | ۲۳ |
| برنج | ۱۰ | جواری | ۶ |
| نخود | ۵ | جو | ۱۱۰ |



### میوه های تازه و خشک

| محصول | فیصدی افزایش | محصول | فیصدی افزایش |
|---|---|---|---|
| انار | ۲۱ | کینو و مالته | ۶۴ |
| انگور | ۲ | | |
| شفتالو | ۳ | زردالو | ۱۰ |
| ناک | ۲۷ | انجیر | ۵۱ |
| گیلاس | ۵ | بادام | ۳۷ |
| توت | ۵ | چهارمغز | ۲۰ |



### نباتات

| محصول | فیصدی افزایش | محصول | فیصدی افزایش |
|---|---|---|---|
| زغر | ۶۵ | زعفران | ۷۶ |
| کنجد | ۱۰ | زیتون | ۴۰ |



**یادداشت:** امارت اسلامی زراعت را یکی از سکتورهای مهم در تقویت رشد اقتصادی کشور می‌داند و به همین منظور تلاش‌هایی را برای مکانیزه‌سازی و توسعه این سکتور انجام داده است. علاوه بر این، در راستای بازاریابی محصولات زراعتی در داخل و خارج کشور نیز گام‌های اساسی برداشته شده است.




# «د اقتصادي معاونیت فعالیتونه او د هېوادوالو نظرونه»

## تحلیلی راپور خپور شو

د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت د ۱۴۰۳ لمریز کال د مرغومي له لومړۍ بیا د کب تر ۳۰مې نېټې پورې د ترسره شویو فعالیتونو په اړه «د اقتصادي معاونیت فعالیتونه او د هېوادوالو نظرونه» تر سرلیک لاندې تحلیلي راپور چمتو او خپور کړ. د دې راپور موخه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته پاملرنه ده.

دا تحلیلي راپور « د لوګر التمور سیمنټو تولیدي فابریکې د تړون لاسلیک کېدل، د شاه او عروس بند ګټې اخیستنې ته سپارل، (په افغانستان کې پانګونې ته بلنه) تر سرلیک لاندې د نړیوال کنفرانس جوړېدل، سردار محمد داوود خان روغتون کې د یو شمېر برخو ګټې اخیستنې ته سپارل، د قطر له رئیس الوزراء سره د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند لیدنه، د عزیزي ګروپ له لوري د سترو پروژو په پرانیستغونډه کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ګډون او ازبیکستان ته د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند دوه ورځنی رسمي سفر » او دې ته ورته یو لړ نور موضوعات رانغاړي. دا هغه موضوعات دي چې د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت د هېواد د اقتصادي ودې او دغه راز د هېواد د بیارغونې په خاطر ترسره کړي او دې ورته د نورو موضوعاتو د ترسره کېدو او عملي کېدو له پاره قوي هوډ لري. د دغو موضوعاتو په اړه په دولتي او خصوصي رسنیو او همدا راز ټولنیزو شبکو کې هېوادوالو خپل نظرونه شریک کړي او د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د دوی نظرونه د علمي معیارونو په نظر کې نیولو سره تحلیل او ارزولي دي. د یادو موضوعاتو په اړه د هېوادوالو نظرونه پر مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو وېشل شوي. د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو مجموعي شمېر ۲۴۴۹۰ دی چې له دې جملې ۲۰۱۱۸ یې مثبت نظرونه دي چې د مجموعي شمېر ۸۲ سلنه جوړوي، د منفي نظرونو شمېر بیا ۳۳۷۵ ته رسېږي چې د مجموعي شمېر ۱۴ سلنه جوړوي. همدا ډول د وړاندېزونو شمېر ۹۹۳ دی چې د مجموعي شمېر ۴ سلنه جوړوي.

د هېوادوالو د نظرونو د تحلیل او ارزونې پایلې دا په ډاګه کوي چې هېوادوال د افغانستان اسلامي امارت له لوري په اقتصادي برخه کې د ترسره شویو کارونو څخه خوښ دي او په راتلونکي کې دې ته د ورته فعالیتونو د پراختیا غوښتنه کوي.



# مقالي

## د اقتصادي موضوعاتو اړوند

# سټنډرډونه؛
## د ملي باور جوړولو او پراخې سوداګرۍ ضامن

زاهد خلیلي

**په دې لیکنه کې د سټنډرډونو په ارزښت، د سټنډرډ په عالي شورا کې وروستیو تصویب شویو سټنډرډونو ته کتنه کوو.**



## سریزه

ســـتېنډرډونه د یو هېواد د اقتصـــادي پرمختګ، پراخو سوداګریزو اړیکو جوړولو، داخلي تولید کچې لوړولو او پـــه نهایت کې د ملي باور جوړولو له پاره ډېر مهم دي. ســـتېنډرډونه په یو هېواد د باکیفیته تولیداتو په موخه وضـــع کېږي. کله چـــې یو هېواد باکیفیتـــه تولیدات ولري، نو صادرات یې ډېرېږي چې دا په مستقیم ډول د یو هېواد د اقتصـــادي ودې په پراختیا کې مهم رول لوبوي. د منل شـــویو ســـتېنډرډونو مطابق صادرات په نړیوال مارکیټ کې د ځای خپلولو او باور ساتلو له پاره ډېر مهم دی. دغه راز، د منل شویو ستېنډرډونو مطابق واردات د هېـــواد پـــه داخل کې د ګنـــو چاپېریالي او روغتیایي ستونزو مخه نیسي او د هېوادوالو د خوشالۍ ســـبب ګرځي. د افغانستان اســـلامي امارت له راتګ وروسته د همدې موخو ترلاســـه کولو له پاره د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ســـتېنډرډ عالي شورا رامنځته شوه. یادې شـــورا تر اوســـه پـــه درېیو غونډو کې لســـګونه ســـتېنډرډونه تصویب کړي دي. پـــه دې لیکنه کې د ستېنډرډونو په ارزښـــت، د ستېنډرډ عالي شورا له لوري وروستیو تصویب شویو ستېنډرډونو ته کتنه کوو.

## ستېنډرډونه ولې مهم دي؟

ستېنډرډونه د دوامداره اقتصادي ودې له پاره ډېر مهم دي. که تولیدوونکي د منل شـــویو ستېنډرډونو مطابق تولید و نه کړي، نو نه شي کولی چې په ملي او نړیواله کچـــه باور خپل کړي او په تدریجي ډول به په مارکیټ کې ځای له لاسه ورکړي. که چېرې یو تولیدوونکی وغواړي په کور د ننه بازار کې خپل ځای وســـاتي، نو ضروري ده چې د خپل هېواد د منل شویو ستېنډرډونو مطابق تولیدات وکړي او بازار ته یې وړاندې کړي. که چېرې دغسې و نه کړي، نو سوداګري به یې له ستونزو او پای بـــه له زوال سره مخ شي. دغه راز، که چېرې یو تولیدوونکی وغواړي چې بل هېواد ته خپل تولید شوي توکي صادر کړي، نو ضروري ده چې د هماغه هېواد د منل شویو ستېنډرډونو مطابق خپل توکي تولید او صادر یې کړي، که داسې و نه کړي، نو صاردوونکي توکي به یې په ګمرکي بندرونو کې رد او له تاوان سره مخ شي. د ســـتېنډرډونو مطابق تولیدات، صادرات او واردات په اقتصـــاد کې یو مهم کار دی، چې په لوړه او ټیټه کچه باید توجه ورته وشي. ستېنډرډونه په ټولو هېوادونو کې وضع شوي دي او هېڅ هېواد نه پرېږدي چې هېواد ته یې د وضع شویو ستېنډرډونو خلاف توکي وارد شي. په دې اســـاس د ټولو مســـوولیت دی چې د ستېنډرډونو موضوع ته جدي توجه وشي.

## د ستېنډرډ عالي شورا:

د افغانستان اســـلامي امارت په هېواد کې د باکیفیته توکـــو تولید، صادرولو او واردولو ته ژمن دی او هڅه یې کړې، چې پـــه دې برخه کـــې لازم ګامونه واخلي. په همدې موخه د ستېنډرډ ملي اداره (انسا) فعالیت کوي او اړتیا ته په کتو په بېلابېلو برخو کې ستېنډرډونه جوړ او د ریاســـت الـــوزراء اقتصـــادي مرســـتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ستېنډرډ عالي شورا ته یې د تصویب له پاره وړاندې کوي. د ســـتېنډرډ عالي شورا د ریاست الوزراء عالي مقام د (۲۰۸۳) ګڼې حکم

پر بنسټ د روغتیا او خوندیتوب د ساتنې، د کیفیت د تأمین، له مستهلک څخه د ملاتړ، د سوداګرۍ اسانتیا، د واحدو قواعدو او معیارونو رامنځته کولو او تطبیق او د چاپېریال ســاتنې په موخه جوړه شــوې ده. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د سټنډرډ عالي شورا لومړۍ غونډه کې ویــلي وو، افغانســتان د اقتصادي ودې او پراختیــا په برخه کې لومړني ګامونه اخیســتي دي او اړتیا ده چې د ســیمه ییزې او نړیوالې سیالۍ له پاره د ملي او نړیوال معیارونو سره ســم محصولات او خدمات وړانــدې شي. د محترم ملا عبدالغنــي برادر اخوند په وینا، ســټنډرډونه د محصولاتو او تولیداتو د کیفیت او اعتبــار تضمینوونکي دي، څو په ملي، ســیمه ییزو او نړیوالو بازارونو کې سیالي وکړي او په نړیواله کچه ومنل شي. اقتصاد وزارت، د صنعت او ســوداګرۍ وزارت، د کرنې اوبــو لګولو او مالدارۍ وزارت، د ترانســپورټ او هوایي چلند وزارت، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت، ټولګټو وزارت، لوړو زده کړو وزارت، مالیې وزارت، عامې روغتیا وزارت، علومو اکاډمي، کابل ښاروالي او د کانونــو او صنایعو خونــې په ګډون یې یو شــمېر نور وزارتونه او ادارې غړیتوب لري. د سټنډرډ عالي شورا تر اوسه درې غونډې کړې دي. لومړۍ غونډه یې د محترم ملا عبدالغني بــرادر اخوند په مشرۍ د ۱۴۰۳ کال د زمري په ۳۰مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شــوې وه. یادې شــورا ته د ســټنډرډ ملي ادارې له لوري ۲۴ سټنډرډونه وړاندې شوې وو چې د سټنډرډ عالي شورا له لوري تصویب شــول. دغه ســټنډرډونه د خوراکي ساختماني، نفتي، کیمیاوي او پلاستیکي توکو او همدا راز د نساجۍ اړوند وو. دغه راز، د سټنډرډ عالي شورا دویمه غونډه د ۱۴۰۳ کال د لیندۍ په لســمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه چې په بېلابېلو برخو کې په کې ۳۰ سټنډرډونه تصویب کړل. د ۱۴۰۴ کال د وري په ۲۴مه نېټه د ســټنډرډ عالي شــورا درېیمه غونډه ترسره شــوه. په دغه غونډه کــې هم په بېلابېلو برخو کې ۳۰ سټنډرډونه تصویب شول. د سټنډرډ عالي شــورا ته وړاندې شوي سټنډرډونه د سټنډرډ ملي اداره کــې د ځانګړو کمېټو لــه لوري جوړېــږي او هلته له تاییدۍ وروســته د سټنډرډ عالي شورا ته د تصویب په موخه استول کېږي. د ســټنډرډ عالي شورا کې له هر اړخیز بحث وروســته د وړاندې شویو سټنډرډونو په اړه پرېکړه کېږي او وروســته د تصویب شویو سټنډرډونو د تطبیق په اړه عملي ګامونه پورته کېږي.

## تصویب شویو سټنډرډونو ته لنډه کتنه:

د ســټنډرډ عالي شــورا درېیمې نوبتــي غونډې ته د ســټنډرډ ملي ادارې لــه لوري ۳۰ ســټنډرډونه او د ازموینېت لســګونه کړنلارې د تصویب له پاره وړاندې شــوې. دغــه ســټنډرډونه او ازموینېــتي کړنلارې د خوراکــي توکو او کرنیزو محصولاتــو، درملو او ارایشي لوازمو، ســاختماني توکــو، الکترونیــک او مخابراتو، نساجي او چرم، چاپېریال ساتنې، طبي وسایلو، کانونو او د ځارویــو د حلالې برخو کــې وو چې له هر اړخیز بحث وروسته د سټنډرډ عالي شورا له لوري تصویب او د پــلي کېدو پرېکړه یې وشــوه. د بېلګــې په ډول، د خوراکي توکو او کرنیز محصولاتو په برخه کې د جوارو، تبخیر شویو شیدو او د طبعي معدني اوبو په برخه کې سټنډرډونه تصویب شول. د جوارو په برخه کې د

AS۹۴۲ سټنډرډ مسوده د سټنډرډ عالي شورا له لوري تصویب شــوه، چې په پلي کولــو سره به یې د مصرف کوونکو له پاره د جوارو په برخه کې کیفیت او مصونیت تامین شي. دغه ســټنډرډ له یو نړیوال سټنډرډ څخه اخیســتل شــوی دی. دغه راز، د غلیظو تبخیر شویو شــیدو په اړه AS۹۴۳ او د طبیعی معدني اوبو په اړه AS۴۲۰ ګڼه ســټنډرډونه تصویب شول، چې په پلي کولو سره بــه یې د مصرف کوونکو له پــاره کیفیت او مصونیت رامنځته شي. د طبابت د اســتعمال په برخه کــې د زرقــي وســایلو AS۹٦۹ ګڼه او نــور بېلابېل سټنډرډونه تصویب شول، چې پلي کول یې د کیفیت د تامین او د ټولنې د ســلامتی له پاره ګټور دی، ځکه په دې سره به د بېلابېلو انتاني ناروغیو د خپرېدو مخه ونیول شي. د پورته یادو شــویو سټنډرډونو سربېره په ګڼو برخو کې تصویب شــوي سټنډرډونه او ازموینېتي کړنــلارې د متخصصو او تخنیکي کســانو له لوري د نړیوالو ســټنډرډونو په نظر کې نیولو سره اخذ شــوي دي. د سټنډرډ ملي اداره د تصویب شویو سټنډرډونو او ازموینېــتي کړنلارو د تطبیق او څارنې مسوولیت لري. که چېرې ســټنډرډونه په ســم ډول تطبیق او منظمه څارنه یې وشي، نو هم به باکیفیته توکي تولید او صادر شي. په دې ډول به مو پــه نړیواله کچه ملي باور جوړ کړی او سوداګری به مو لا ډېره پراختیا موندلې وي.

## پایلــه

سټنډرډونه د انسانانو د ژوند د خوندیتوب له پاره ډېر مهم دي. که سټنډرډونه وضع نه شي، نو انساني ژوند او چاپېریال به له ګڼو ستونزو سره مخ شي. په همدې اســاس، د یادو ســتونزو د مخې نیولــو، د تولیداتو، صادراتــو او وارداتــو پــه برخــه کــې د کیفیت او خوندیتــوب رامنځته کولو او بــاوري کولو په موخه د ســټنډرډ ملي اداره او د ســټنډرډ عالي شورا فعالیت کوي. اســلامي امارت د خوراکي توکو، ســاختماني موادو، طبي وسایلو او نورو برخو کې د سټنډرډونو په وضــع کولو سره غواړي چې هېواد کې د ننه باکیفیته توکــي تولید او بهر ته صادر شي. دغه راز، اســلامي امارت غــواړي چې لــه بهرنیو هېوادونــو څخه هم افغانستان ته د وضع شویو سټنډرډونو مطابق واردات وشي،سوداګرو او تولیدوونکو ته په کار ده چې د وضع شویو ســټنډرډونو مطابق خپل کارونه پر مخ یوسي. که داســې و نــه کړي، نــو د دوی ســوداګری او د افغانستان باور ته به زیان ورسېږي.



# د ترانسپورټي زيربناوو په پياوړتيا کې
# د اسلامي امارت هڅې

نجيب الله مايار

په دغــه ليکنه کــې د ترانســپورټي زېربناوو پــه پياوړتيا کې د اســلامي امارت د هڅو، د کابل ارغندی، د کابل د ښرخي پله او په بدخشــان، ارزگان او کندهار کې د نويو جوړېدونکو ترمينلونو په اړه خبرې شوې دي.



## سریزه

ترانسپورټ د هر هېواد د اقتصادي، ټولنيز او کلتوري پرمختګ بنسټيز عنصر ګڼل کېږي. پياوړې ترانسپورټي زيربناوې کولی شي چې د توليد، تجارت، پانګونې، سياحت او ټولنيزو اړيکو له پاره زمينه برابره کړي. افغانستان، چې يو غرنی او په وچه کې ګير هېواد دی، د ترانسپورټي شبکو پراختيا ته تر بل هر وخت ډېره اړتيا لري. سړکونه، پلونه، رېل‌لارې، هوايي دهلېزونه او ترانسپورټي ترمينلونه د هېواد اقتصادي وده ګړندۍ کولی شي. په دې برخه کې د نورو لارو په پرتله د ځمکنيو لارو ارزښت ډېر او پياوړتيا او سمبالتيا ته يې ډېره پاملرنه کيږي. د افغانستان اسلامي امارت د ترانسپورټي زيربناوو د جوړولو او پياوړتيا په لاره کې په مرکز او ولايتونو کې د څو ترانسپورټي ترمينلونو د جوړولو کار پيل کړی دی. په دې ليکنه کې به د دغه زيربنايي پروژو د ارزښت او اهميت په اړه خبرې وکړو.

## د ترانسپورټي زېربناوو په پياوړتيا کې د اسلامي امارت هڅې

د افغانستان اسلامي امارت د ترانسپورټي زېربناوو د پياوړتيا، د کورني، سيمه ييز او حتی نړيوالو ترانسپورټي چارو د مديريت او لويو اقتصادي، سوداګريزو او ټولنيزو سياستونو د پلي کولو په موخه په ۱۴۰۳ لمريز کال کې ۳۴ بېلابېلې پروژې بشپړې او ګټې اخيستنې ته وسپارلې. په دې پروژو کې ۲۰ د واټ ترانسپورټ او ۱۴ نورې د هوايي ترانسپورټ په برخه کې پلي شوې دي چې د اسلامي امارت له بوديجې څخه پرې ۱،۶ ميلياره افغانۍ لګول شوې دي.

دغه راز په ۱۴۰۳ کال کې د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت له خوا د ۵۳ زيربنايي او تاسيساتي پروژو طرحې، ډيزاين او تدارکاتي چارې بشپړې شوې او اوسمهال د تطبيق په حال کې دي. په دې پروژو کې ۳۸ پروژې د واټ ترانسپورټ او ۱۵ نورې د هوايي ترانسپورت په برخه کې دي. په دې پروژو ټولې ۳،۸ ميلياره افغانۍ لګښت راځي.

په دې ليکنه کې د هغو پروژو يادونه کوو چې په وروستيو کې يې چارې پيل شوې دي:

## ۱ - د کابل د ارغندی ترانسپورټي ترمينل

دغه ترمينل د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له خوا د روان لمريز کال د ورې په دريمه نېټه د کابل ولايت د پغمان ولسوالی د ارغندی په سيمه کې پرانيستل شو. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په هېواد کې د ترانسپورټي زېربنا د پراختيا په برخه کې د دغه ترمينل جوړول مهم وبلل او ويې ويل، د ترانسپورټي زېربناوو معياري رغول او پراخول د يو هېواد د اقتصادي ودې، پرمختګ او د داخلي او سيمه ييز اتصال لپاره ډېر مهم او بنسټيز ګام ګڼل کېږي. د محترم ملا صاحب په خبره، له بده‌مرغه په هېواد کې د لسيزو جګړو او فساد له امله دې مهمې برخې ته نه يوازې جدي پام نه دی شوی؛ بلکې په دې برخه کې شته زېربنا د ټيټ کيفيت له امله تخريب شوې، عامه ملکيتونه د اشخاصو له لوري غصب او د لويو لارو او سړکونو حريمونه کوچنۍ شوي دي. محترم ملا

عبدالغني بـــرادر اخوند د معياري ترانســـپورټي زېربنا ارزښـــت ته په اشـــارې سره وويل، په ترانســـپورټي او مواصـــلاتي زېربناوو کې پانگونه، د غصب شـــويو عامه ملکيتونو بېرته استرداد، د سړکونو او لارو د اصلي حريم تشخيصول او رغول د افغانســـتان اسلامي امارت يو له اساسي او مهمو ملي موخو څخه گڼل کېږي. د ارغندی ترانسپورټي ترمينل په شاوخوا ۹۰۰ جريبه ځمکه کې د يو ميليارد او ۲۸۵ ميليونو افغانيو په لگښـــت جوړېږي، چـــې چارې به يې د خصوصي ســـکټور له لوري په دوو کلونـــو کې بشـــپړې شي. په دغه ترمينـــل کې لاندې تاسيسات او آســـانتياوې په پام کې نيول شوې دي: د مسافر وړونکو موټرو له پاره دوه پوړيزه ترمينل، د اطرافي ټکسيانو،شخصي موټرو او بســـونو له پاره پارکينگونه، جومـــات او اړونـــده ملحقـــات، د مســـافرو لـــه پـــاره انتظارخونې، د موټر چلوونکو له پاره د استراحت خونې، د رســـټورانټ ودانۍ، د اداري چارو لـــه پاره دوه پوړيزه ودانۍ، د وسايطو د الکترونيکي چيک او کنټرول مرکز، د اوروژنې ودانـــۍ، د تيلو ټانک، دخـــولي او خروجي دروازې، د باروړونکو نقليه وســـايطو د پارکېنگ ساحه، امنيتي امکانات او د امنيتي ځواکونو له پاره د اوســـېدو دوه پوړيزه ودانۍ، حمامونه، د ورکشاپ هنگر، د وسايطو د رنگمالۍ او کوپه کشي هنگر، د موټر مينځلو امکانات، دوکانونه، د لويو باروړونکو موټرو له پاره د نوبت د تنظيم سالون، سړکونه، پلې لارې، شنه ساحه، د بارولو او بارونو د ښـــکته کولو ســـاحې، د لويو مســـافر وړونکو موټرو پارکينگ، مېلمســـتون ودانۍ، د تخنيک ودانۍ، د اوبو زېرمه او د اوبو رســـولو سيســـتم احاطوي ديوال او نور شامل دي. د دغه ترمينل په جوړېدو سره به ترانسپورټي اسانتياوې زياتې شي، د انتقال اړوند چارو په چټکتيا او غوره تنظيـــم کې به مهـــم رول ولوبوي، ترانســـپورټي لگښتونه او ترافيکي ستونزې به کمې او ډېرو هېوادوالو ته به د کار زمينه هم برابره شي.

## ۲ - د کابل د څرخي پله مسافروړونکو موټرو ترمينل

دا ترمينل د کابل ولايت په ختيځه سيمه څرخي پله کې جوړېږي چې د جوړېدو چارې يې د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت او يو شـــمېر لوړو پوړو امارتي مســـوولينو په حضور کې پيل شوې. دا ترمينل په ۷ اعشاريه درې جريبه ځمکه کې جوړېږي. دغه ترمينـــل چې په معياري ډول جوړېږي، د مســـافرو له پاره انتظارخونه، د ترانســـپورټي شرکتونو دفترونه، سوداگريز دفترونه، ريسټورانټ او کافي شـــاپونه، مېلمســـتونونه، د نارينه او ښـــځو له پاره جلا جوماتونه او نور امکانات لري. پردې سربېره د وسايطو له پاره په ۳۲۵۰ متره مربع ځمکه د موټرو د پارکينگ له پاره يوه تلخونه په پام کې نيول شوې ده. په دغه ترمينل کې د بيلابېلو موټـــرو له پاره د نوبت سيســـتم، پارکينگونه، د موټرچلوونکـــو له پاره د اســـتراحت ودانـــۍ، د اوروژنې امکانـــات، دوکانونه، کانالونه، د څارنې برجونه، تخنيکي ورکشاپونه، د موټر مينځنې ځای، حمام او د اوبو او برېښنا په گډون د اړتيا وړ ټول امکانات په پام کې نيول شـــوي دي. دغه ترمينل د اســـلامي امارت له بوديجې څخه د ۱۶۳ ميليونه افغانيو په لگښـــت جوړيـــږي چې په ۱۸ مياشتو کې به يې چارې بشپړې شي. د ترمينل په جوړېدو سره به شـــاوخوا ۵۰۰ کسانو ته په مســـتقيم او ۲۵۰۰ کسانو ته په غير مستقيم ډول د کار زمينه برابره شي.

## ۳ - د بدخشان ترانسپورټي ترمينل

په بدخشـــان کې د سيمه ييزو مســـوولينو له خوا د يوه ترانســـپورټي ترمينـــل د جوړولو چارې پيل شـــوې. دا ترمينل چې د ٦٠ ميليون افغانيو په لګښت د ترانسپورت او هوايي چلند وزارت له خوا د فيض آباد ښار په ايتارچي ســـيمه کې په لس جريبه ځمکه کې جوړېږي، د روان لمريز کال د وري مياشـــتې په دريمه نېټه يې چارې د ترانســـپورټ او هوايي چلنـــد وزارت د مرســـتيال ملا عبدالســـلام حيدري له خوا پرانيستل شـــوې. په دغه ترمينل کې يـــوه اداري وداني، جومـــات، پارکينګ او دوکانونه شته چې د واخان دهليز په پرانيستل کېدو سره به دغه ترمينل ته ځانګړې پاملرنه وشي.

## ۴ - ارزګان کې د مسافر وړونکو موټرو ترمينل

د ترانسپورت او هوايي چلند وزارت له خوا د ترانسپورټي زېربنـــاوو د جوړولو په لړ کې پـــه ارزګان کې هم د يوه معياري ترمينل د جوړولو چارې پيل شـــوې. د مســـافر وړونکو موټرو د دغه ترمينل د جوړولو کار د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت د سرپرست ملاحميدالله اخوندزاده له خوا پرانيستل شو. په دغه ترمينل شاوخوا ۳۸ ميليونه افغانۍ لګښـــت راځي چې د يوه معياري ترانســـپورټي ترمينـــل ټولې ځانګړتياوې او امکانات به ولري او په ۱۴ مياشتو کې به يې د جوړولو چارې بشپړې شي.

## ۵ - کندهار کې د باغ پُل او نساجۍ ترمينلونه

په کندهـــار کې د دوو ترمينلونـــو د جوړولو چارې پيل شوې. په دې کې يو د کندهار د باغ پُل د مسافر وړونکو موټرو ترمينل دی. دا ترمينل د کندهار په باغ پُل سيمه کې په ۱۴۲ جريبه ځمکه د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت له بوديجې جوړېږي. د دغه ترمينل د جوړولو کار د ترانســـپورټ او هوايي چلند وزارت د سرپرست له خوا پرانيســـتل شـــو. بل ترمينل د کندهار د نســـاجۍ د مســـافروړونکو موټرو ترمينل دی چـــې د دغه ولايت په دامان ولســـوالۍ کې جوړيږي. دا ترمينل چې د مسافر وړونکو موټرو او مسافرو له پاره به ټول امکانات ولري په ۱۰۰ جريبه ځمکه د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت له بوديجې څخه په ۲۸۴ ميليونه افغانۍ جوړيږي او په ۱۴ مياشتو کې به يې چارې بشپړې شي.



## ٦ - زابل کې ترانسپورټي تأسیسات

په هېواد کې د ترانسپورټي زېربناوو د پیاوړتیا په لړ کې په زابل کې هم د نږدې ۲۸ میلیونه افغانیو په لګښت د مسافروړونکو موټرو ترمینل او همدا راز د دغه ولایت له پاره د واټ ترانسپورټ اداري ودانۍ د جوړولو چارې پیل شوې. د ترانسپورټ او هوایي چلند وزارت د مالي او اداري مرستیال حافظ صدیق الله عابد په وینا چې د دغه تأسیساتو د جوړولو د چارو د پیل په موخه کلات ښار ته تللی و دا ودانۍ به په ۱۲ میاشتو کې بشپړې شي. په دغه تأسیساتو کې د واټ ترانسپورټ درې پوړیزه اداري ودانۍ، د ترمینل احاطوي دیوال، جومات، د موټرو له پاره پارکینګ او نور د اړتیا وړ امکانات په پام کې نیول شوي چې د کار په بشپړېدو سره به یې په دغه ولایت کې د موټر چلوونکو او مسافرو ستونزې تر ډېره بریده حل شي.

## پایله

د ترانسپورټي زیربناوو پیاوړتیا نه یوازې د اقتصادي ودې، بلکې د ټولنیزې هوساینې، د فقر کمولو، د کلتوري اړیکو پراختیا او د سیاسي ثبات لپاره اساسي ارزښت لري. افغانستان چې یو پرمختګ‌ته تږی هېواد دی، باید د ترانسپورټ برخه لومړیتوب وبولي او د دې برخې پراختیا ته کلک هوډ ولري. د ترانسپورټي او مسافروړونکو ترمینلونو د جوړولو په نتیجه کې به ترانسپورټي زیربناوې ایجاد او پیاوړې شي چې له امله به یې توکي په وخت او ارزانه لګښت سره بازار ته ورسېږي، کرنیز، صنعتي او کاني محصولات به بهرنیو بازارونو ته صادر شي، د بېلابېلو سیمو ترمنځ به اړیکې ټینګې شي، د پانګوالو لیوالتیا به زیاته او د ټولنیزو خدمتونو (روغتیا، تعلیم...) ته لاسرسی به اسانه شي.



**During the years 1402 and 1403 SH, the Ministry of Rural Rehabilitation and Development constructed**

# 79 CHECK DAMS

### Types of Check Dams:

*Concrete, stone masonry, and earthen*

### Purpose of constructing the check dams:

*To recharge groundwater, prevent floods, store rain and snow water, and reduce the impacts of drought*

### Status of the check dams:


*Completed*

### Total cost:

*Over 317 million Afghanis*

### Sponsor:

*Islamic Emirate of Afghanistan*



**Provinces**
**and the number of check dams constructed:**

*Badghis: 9, Zabul: 10, Baghlan: 4, Sar-e Pul: 7, Farah: 10, Kunduz: 7, Balkh: 9, Herat: 16, Nimroz: 3, Paktia: 4*



dpmea.gov.af

share the existing investment opportunities in Afghanistan's mining sector with Kazakhstan and to sign agreements in areas such as the preservation and quarantine of agricultural products, and livestock sector. Deputy PM Mullah Baradar Akhund also emphasized the need to expand banking relations between the two countries and strengthen cooperation in the development and exploration of Afghanistan's oil fields. Furthermore, Deputy PM Mullah Baradar Akhund said the Islamic Emirate has started working on the establishment of an operational company to increase the volume of imports and exports via railway, which will soon be introduced to Kazakhstan. He noted that this step will further facilitate trade among regional countries via railway.

He further added that Afghanistan is committed to cooperation with regional countries in the industrial, commercial, and transportation sectors. In this regard, the Islamic Emirate has prepared a draft agreement related to a joint center involving four countries—Afghanistan, Iran, Kazakhstan, and Turkmenistan—and has shared it with the Kazakh side. Additionally, Deputy PM Mullah Baradar Akhund stressed the importance of resuming flights between Kabul and Astana, easing visa issuance for Afghan traders by Kazakhstan, and Afghanistan's active participation in the upcoming regional economic forum.

In response, Kazakhstan's Deputy PM, Serik Zhumangarin, said Kazakhstan supports a developed and independent Afghanistan and acknowledges the remarkable progress being made across various sectors in the country. Mr. Zhumangarin added that considering these advancements, trade and economic relations between the two nations have expanded. He noted that Kazakhstan is ready to invest 500 million USD to commence the implementation of the Torghundi–Herat phase of the Torghundi–Herat–Spin Boldak railway project. He also stated Kazakhstan's readiness to establish a logistical and transport company in Herat to manage the project's operations. Additionally, the Deputy PM of Kazakhstan mentioned that Kazakhstan is prepared to launch an internet cable project that would provide Afghanistan with affordable internet access.

Mr. Zhumangarin further noted that Kazakh investors are ready to invest in various sectors in Afghanistan, particularly in mining, oil, and gas, and technical teams have already arrived in Kabul in this regard. During the meeting, the Kazakh side expressed its willingness to facilitate visa issuance for Afghan traders, resume flights between the two countries, enhance banking cooperation, increase transit and bilateral trade, and collaborate in the health and education sectors.

Deputy PM Mullah Baradar Akhund welcomed Kazakhstan's pledge to invest 500 million USD in the mentioned railway project, the establishment of a logistical and transport company, and their readiness to invest in various sectors. He assured the Kazakh side of full cooperation from the Islamic Emirate.

# THE ROADMAP FOR EXPANDING ECONOMIC COOPERATION BETWEEN AFGHANISTAN AND KAZAKHSTAN IS BEING IMPLEMENTED



Deputy PM for Economic Affairs Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, met with the Deputy PM of Kazakhstan, Serik Zhumangarin, and his accompanying delegation. This meeting took place today, April 21, 2025, at the Gulkhana Palace in the Arg. During the meeting, both sides discussed expanding joint cooperation in various economic sectors.

Deputy PM Mullah Baradar Akhund stated that Afghanistan shares fundamental commonalities with Kazakhstan, which have positively influenced the commercial relations between the two countries throughout history and increased investment opportunities. He added that since the establishment of the Islamic Emirate, trade relations between the two nations have been steadily growing and strengthening.

Deputy PM Mullah Baradar Akhund emphasized Afghanistan's strong commitment to enhancing economic and trade relations with Kazakhstan and other regional countries. To this end, he noted that a draft roadmap was recently signed between Kabul and Astana to raise the trade volume to three billion USD. According to Deputy PM Mullah Baradar Akhund, the implementation of this roadmap will bring about significant positive changes in various economic fields, including trade, agriculture, mining, transport, transit, railways, and industry, and will lead to increased investment in these areas. He stated that the Islamic Emirate is ready to

MULLAH ABDUL GHANI BARADAR AKHUND TO THE RETURNING CITIZENS:

# WELCOME BACK

## TO YOUR FREE HOMELAND, YOUR VILLAGES, AND YOUR BROTHERS

The Deputy PM for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, met with returning citizens on April 30, 2025, in Spin Boldak District of Kandahar Province.

The Deputy PM warmly welcomed the returnees and stated that, "By the gathering and the act of welcoming them is one of the most joyful and pride-filled moments in life. Deputy PM Mullah Baradar Akhund added now, it must be clear to you that under foreign rule, there is no real happiness, sustainable progress, sense of ownership, honor, or pride. The feeling of freedom, rightful ownership, pride, and true happiness exists only in one's own homeland."

Deputy PM Mullah Baradar Akhund added: "We understand that you were forced—abruptly and against your will—to leave your homes. Your businesses were disrupted, many of your assets and resources were left behind, and your education was left incomplete. It is evident that this has been a difficult situation. However, on behalf of the Islamic Emirate of Afghanistan, I assure you that we will utilize every available resource to address your challenges. Your children will go to madrasas and schools, your businesses will be rebuilt, and all possible facilities will be provided to you. In this regard, the Islamic Emirate has already facilitated many services for our Afghan brothers in a very short time and will continue to do so."

The Deputy PM further emphasized, "You are the children of this sovereign land. No matter what difficulties you face here, no one will expel you. In a free Afghanistan, your pride will remain alive, and you will never feel subjugated. A day was destined to come when you would return to your homeland. That day is today—and it is good that you are back in your villages and with your brothers."

Deputy PM Mullah Baradar Akhund also stated that the dignity and pride of this country depend on the unity and solidarity of the Afghan people. "Together, we will serve our religion and our land. We will extend our support to the Islamic system and will work to permanently save the beloved children of our homeland from the humiliation, exploitation, and displacement in foreign countries."

In conclusion, Deputy PM Mullah Baradar Akhund called on all international humanitarian organizations to cooperate with the Islamic Emirate and support the returning Afghan citizens.

# REMAINING WORK ON THREE MAJOR ELECTRICITY DEVELOPMENT PROJECTS LAUNCHED IN KANDAHAR, ZABUL, AND HELMAND PROVINCES



On April 28, 2025, in the presence of the Deputy PM for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, several esteemed cabinet members, and local officials from Kandahar, Zabul, and Helmand, the remaining work on three major electricity development projects was officially launched in these provinces.

During his speech at the ceremony, Deputy PM Mullah Baradar Akhund stated that these projects are significant steps towards achieving self-sufficiency in the electricity sector, creating new employment opportunities, and strengthening infrastructure. He emphasized that, through these initiatives, the full transfer of electricity from the Kajaki Dam to Kandahar would be realized. This electricity will illuminate homes and promote industrial growth.

He further added that the Islamic Emirate is making serious efforts to generate electricity domestically from existing resources. In this regard, agreements have recently been signed with the private sector for the production of 250 megawatts of electricity from solar, wind, and gas sources across various provinces.

All officials attending the ceremony stressed the importance of expanding domestic electricity production, completing unfinished electricity projects, and ensuring the provision of necessary electricity to the industrial, commercial, and agricultural sectors.

The projects include the completion of the remaining work on the Qalat Substation in Zabul's capital and the Kandahar East Substation, as well as the extension of a 110-kilovolt transmission line from the Kajaki power plant to the Kandahar East Substation.

The total cost of these projects is estimated to be around one billion Afghanis. Upon completion, hundreds of thousands of new consumers will gain access to electricity, and numerous employment opportunities will be created for citizens. The full completion of these projects will enable the Kajaki power plant to fully transfer its production capacity, providing the required electricity to the industrial, commercial, and agricultural sectors.



# 30 STANDARDS APPROVED by the High Council for Standards

Under the chairmanship of the Deputy Prime Minister for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, the second meeting of the High Council for Standards was held on November 30, 2024, at the Marmarin Palace. During the session, 30 standards were approved.

The meeting was attended by the Director-General of the National Standards Authority, Mullah Faizullah Tamim, permanent members of the council, and representatives from the private sector.

In his opening remarks, Deputy PM Mullah Baradar Akhund emphasized the necessity of formulating and implementing standards to ensure the provision of quality domestic and imported products to the Afghan people. He stated that the application of these standards would prevent the import and production of substandard goods, ensuring that the public has access to high-quality products. He strongly urged all institutions to strictly implement and monitor the standards approved by the council.

The session presented 30 proposed standards for approval in various sectors, including: construction materials, food and beverages, medical equipment, mining, petroleum products, textiles, environmental protection, and electrical appliances.

After comprehensive discussions, the council unanimously approved the proposed standards.

Afghanistan with strong and positive relations with the region and the world. Its key objectives include upholding Islamic Sharia law, ensuring principles of efficiency, transparency, and accountability, expanding effective and constructive relations with the region and the world, establishing sustainable peace and overall security, creating employment and fostering economic growth, preserving religious and national values, territorial integrity, and Islamic sovereignty, enhancing effective management of national and natural resources, improving the delivery of basic services, promoting industry, trade, and private sector development, advancing infrastructure and regional connectivity, and improving social protection and the living environment.

Additionally, during the meeting, the Ministry of Finance was tasked with including in the fiscal year 1404 budget the feasibility study projects for a natural reservoir in Mandol District of Nuristan Province and hydroelectric dams in the Kalagush area of Nurgram District in the same province.

At the end of the meeting, two proposals from the private sector were also approved.

The approved proposals are: the construction of a Tir Park in Khenjan District of Baghlan Province, with an investment of 209 million Afghanis and the construction of an underground commercial market with 511 shops in the center of Ghazni Province, with an investment of 309 million Afghanis.

These matters were forwarded to the esteemed Office of the Amir-ul-Mu'minin, may Allah protect him, for final approval.

## Contracts Signed for Electricity Generation and Transmission Projects Worth 20.7 Billion Afghanis

In the presence of the Deputy Prime Minister for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, contracts for seven electricity generation projects and three electricity transmission projects were signed today, March 27, 2025, at the Government Media and Information Center, between Da Afghanistan Breshna Sherkat and the private sector.

The seven electricity generation projects include a 40-megawatt solar power plant in Balkh province, a 5-megawatt solar power plant in Herat province, a 10-megawatt solar power plant in Laghman province, phase one (43.2 megawatts) of a 200-megawatt wind power project in Herat province, a 40-megawatt solar power plant in Logar province, a 40.25-megawatt solar power plant in Nangarhar province, and a 50-megawatt gas-powered electricity project in Jawzjan province.

These projects will generate a combined capacity of 228.45 megawatts.

The electricity transmission projects include construction of the eastern power substation in Kandahar province, construction of a power substation in Qalat, Zabul province and the extension of a 110-kilovolt transmission line from Kajaki to Kandahar.

For the implementation of these projects, domestic and foreign private companies will invest a total of 20.7 billion Afghanis, and the projects will be completed in a standardized manner within the designated timelines.

industrialists across all provinces.

Additionally, a committee led by the Ministry of Public Health was assigned to develop a procedure to prevent the smuggling of human, animal, and agricultural medicines, health products, and food items. The committee prepared and presented the procedure for evaluation during the second meeting. After integrating a series of amendments, the procedure will be submitted to the Office of His Excellency Amir al-Mu'minin (May Allah protect him.) for approval.

In the second special meeting of the Economic Commission, under the leadership of His Excellency Amir al-Mu'minin (May Allah protect him.), a decision was made to allow the export of Afghan livestock to foreign countries for six months each year, under a regulated mechanism. After six months, previous practices will resume. Furthermore, the General Directorate of Administrative Affairs was assigned the responsibility of formulating a comprehensive procedure, in coordination with relevant ministries, to expedite the processing of investors' and traders' affairs within government institutions and to resolve existing challenges across all sectors. This procedure is to be submitted first to the Economic Commission for endorsement, and subsequently to the Office of His Excellency Amir al-Mu'minin (May Allah protect him.) for final approval.

It is worth noting that during the second special meeting of the Economic Commission, reports on the implementation of the decisions made in the first meeting were presented by the relevant ministries and institutions.

# ECONOMIC COMMISSION APPROVES DRAFT OF NATIONAL DEVELOPMENT STRATEGY



The regular meeting of the Economic Commission was held under the leadership of the Deputy PM for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund. The meeting took place on April 15, 2025, at the Marmarin Palace.

The draft of the National Development Strategy was presented to the Economic Commission for discussion. After comprehensive evaluation and incorporating the amendments proposed by the Commission, the draft was approved.

The draft of the National Development Strategy is a comprehensive, unified, and long-term document prepared for the purpose of defining and achieving the country's fundamental national goals over the next five years. It has been developed under the leadership of the Deputy PM for Economic Affairs Office, with the Ministry of Economy acting as its secretariat, and in collaboration with the relevant sectoral ministries.

This strategy envisions a stable, prosperous



# THE SECOND SPECIAL MEETING OF THE ECONOMIC COMMISSION FOR THE YEAR 1446 HIJRI WAS HELD UNDER THE LEADERSHIP OF HIS EXCELLENCY AMIR AL-MU'MININ (MAY ALLAH PROTECT HIM.)

The second special meeting of the Economic Commission for the year 1446 Hijri was held under the leadership of His Excellency Amir al-Mu'minin (May Allah protect him.) on the 28th, 29th, and 30th of Shawwal al-Mukarram. In this meeting, follow-up reports on the decisions made during the first meeting of the Economic Commission, held under the leadership of His Excellency on the 3rd of Jumada al-Awwal 1446 AH, were presented.

In the first meeting, a committee chaired by the General Directorate of Administrative Affairs was assigned the task of formulating a procedure for facilitating the sale and distribution of state-owned plots and the leasing of buildings in accordance with urban planning principles. This committee presented the drafted procedure for review during the second meeting. After incorporating certain amendments, the procedure will be sent to the Office of His Excellency Amir al-Mu'minin (May Allah protect him.) for final approval. According to this procedure, citizens can complete the land registration process on private land within 15 days, and have the land map approved and initiate construction work within one month.

Similarly, in the first meeting, the Ministry of Agriculture, Irrigation, and Livestock was tasked with transferring land to the Ministry of Industry and Commerce in all provinces for the establishment of industrial parks. During the second meeting, both ministries reported on the implementation of this decision, confirming that the transfer of 80,000 jeribs of land had been completed in most provinces, while in some provinces the process is nearing completion. This initiative is expected to resolve the issue of land shortages for

| | |
| --- | --- |
| **Publisher:** | Deputy PM for Economic Affairs Office |
| **Editorial Board:** | Maulvi Abdullah Azzam, Maulvi Zabehullah Nasir, Amanullah Hanifi, Fazal Wali Shirani and Najibullah Mayar |
| **Chief Editor:** | Maulvi Khaliq Dad Taqi |
| **English Translator:** | Sajad Ahmad K. |
| **Graphic Designer:** | Ataurahman Saeid |
| **Photojournalist:** | Hujjatullah Qazizadah |

Marmarin Palace, Malik Asghar Square, Kabul

0202107500

media@dpmea.gov.af

dpmea.gov.af

**Please provide proper attribution when using content from this magazine.**